## عبدالرحیم روغانی نظم - دا ولې؟

محکوم د داسې قوم یو چې خوراک کړي په ناولې
چې دا ولې، دا ولې،دا ولې؟

---

دا ژوند زمونږ تېرېږي په دنیا خاورې خځلې
چې دا ولې، دا ولې، دا ولې؟
په بله بله لاړو د اسلافو له مسلکه
نو دا څکه، دا څکه،دا څکه
مونږ څمکه کې خښېږو، خلک اوسي په اسمان
ښېږې شي که هرڅومره، په دعا یادوو ځان
اول حاجت روا و اوس محتاج یو د جهان
د خاورو د خځلو شان پراته یو په ډېران
#حکمت د دین حصه وه مونږه وګڼله سپکه
نو دا څکه، دا څکه، دا څکه
تر اوسه پوهه نه یو د ژوندون په سود او زیان
تیاره کوهي کې اوسو ناخبره چیندښان
تاریخ راته په پاڼه پاڼه وایي فاتحان
چې ځانته فکر وکړو #شکست خورو په هر میدان
محکوم د داسې قوم یو چې خوراک کړي په ناولې
چې دا ولې، دا ولې،دا ولې؟
زموږ هره خبره نه خوشېږي بې #ټوپکه
دا څکه، دا څکه، دا څکه
په خدای او په رسول باندې ایمان لرو محکم
مونځونو په نفلونو یو د شپې ورځې اړم
رکعات به رانه پاتې پکې نشي په قَسم
په حج او په روژه یو د یو بله مقدم
#خو بیا هم د غم شپې مو په ښادۍ نشوې بدلې
چې دا ولې، دا ولې، دا ولې؟
د ژوند په هر ډګر کې ورور د وروره کوي #کرکه
دا څکه، دا څکه، دا څکه

عبدالرحیم روغاني